دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت دویم کال، ۹۹ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د کب ۲۵ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الثانی ۱۰ مه د۲۰۱۱ م د مارچ ۱۲ مه

درس قرآن

ای مؤمنانو! په انصاف کلک ودرېږئ او باید د الله لپاره گواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، ځکه چې الله له تاسی څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منه مه کوئ که تاسې په گواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو بېشکه چې الله پاک ستاسی له کړنی څخه بنه خبر دی.
(النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنگه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو گاونډیانو څخه واورېدل چې نیکي دې وکړه نو تا بېشکه نیکي کړی ده او چې ورڅخه دی واورېدل چې تا بدي کړی ده نو بېشکه بدي دی کړی ده. (ابن ماجه)

پیام تسلیت حزب اسلامی افغانستان بمناسبت ۲۴ حوت سالروز شهادت مردم مسلمان هرات

تاریخ گواه بر آنست که نمیتوان اندیشه های غیر دینی و الهی را با زورگویی، استکبار و استعمار بالای ملت های مسلمان، معتقد و باورمند به نظام الهی تحمیل نمود. بردگان روسی (خلقی ها و پرچمی ها) در حمایهٔ آتش از هوا و زمین بخاطر تحمیل اندیشه ماده پرستی شان بالای مردم قهرمان و سرافراز هرات حمله بردند که با مقاومت آهنین و خونین راد مردان آن دیار مواجه شدند، و با وارد نمودن تلفات سنگین بر هواداران نظام مزدور کمونیزم صدها سرباز و افسر رژیم را به اسارت درآورده و با اشغال مراکز نظامی ده ها عراده توپ و تانک را به غنیمت گرفتند که در نتیجه مقاومت های شدید مردم بی دفاع در هرگوشه وکنار (٢٤) هزار هموطن مجاهد ومسلمان سرزمین جامی وانصاری به دیار شهادت شتافتند.
بدینوسیله حزب اسلامی افغانستان مراتب تسلیت و همدردی خود را به تمام مجاهدان قهرمان هرات بخصوص بازماندگان شهدای قیام بزرگ وتاریخ ساز بیست وچهارم حوت ۱۳۵۷ ابراز نموده، و از خداوند قهار یکبار دیگر خواهان سرنگونی نظام های زورگو و جنایتکار میباشد که میخواهند در تقابل با نظام الهی ملت های مسلمان را را در اسارت بکشند. روح شهدا شاد باد، و درفش سبز صلح و آزادی در سراسر گیتی برافراشته باد.
(از طرف ریاست حزب اسلامی افغانستان)

اوباما له گیټس او پیټرپیاس سره د ځواکونو پر وتلو وغږېده

PROPERTY OF ACKU

بي بي سي:
ولسمشر اوباما په سپینه ماڼۍ کې له دفاع وزیر رابرټ گیټس او جنرال ډیوېډ پیټرپیاس سره د افغانستان پر روانو حالاتو او له دغه هېواده د امریکايي ځواکونو پر وتلو غږېدلی دی.
سپینې ماڼۍ ویلي "دډېرو مشرانو په افغانستان کې د ترهگرۍ پرضد په مبارزه خبرې وکړې، او ترڅنگ یې د افغان ځواکونو پر وړتیاوو هم وغږېدل. ټاکل شوې ده چې د روان کال د مارچ پر ۲۱مه له بهرنیو ځواکونو افغان ځواکونو ته د هېواد د امنیتي چارو سپارل پیل شي."
امریکایي پوځي مشران په داسې حال کې له ولسمشر اوباما سره گوري، چې په دې وروستیو کې د بهرنیو ځواکونو له لوري د ولسي وگړو په وژل کېدو سره د کابل او واشنگټن ترمنځ ډیپلماتیک اړیکې څه ناڅه ترینگلې شوې دي.
په تېرو کابو درو اوونیو کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د عملیاتو پرمهال شاوخوا ۸۰ ولسي وگړي وژل شوي.
په دې لړ کې جنرال ډیوېډ پیټرپیاس له ولسمشر کرزي بښنه وغوښته او سم لاسي د امریکا دفاع وزیر رابرټ گیټس کابل ته ولاړ او په وژل شوو

پاتې ٤ مخ

رئیس جمهور کرزی خواهان توقف عملیات های شده که موجب تلفات افراد ملکی می شود

کابل، رسانه ها:
سخنگوی رییس جمهور حامد کرزی در مورد تقاضای رییس جمهور افغانستان برای توقف عملیات نظامی ناتو در این کشور توضیح داد.
وحید عمر روز دوشنبه گفت، اساساً رییس جمهور افغانستان خواهان توقف آنعده از عملیات نظامی شده که موجب تلفات غیرنظامیان در این کشور می شود.
عمر که در یک کنفرانس خبری صحبت می کرد گفت، رییس جمهور کرزی خواهان توقف این نوع حملات شده که ادامه تقاضاهای رییس جمهور، حکومت و مردم افغانستان است.
به گفته وی آنها از چندین سال به این سو خواهان توقف عملیات شده اند که منجر به تلفات غیرنظامیان می گردد.
روز شنبه رییس جمهور کرزی طی دیداری از ولایت کنر ظاهراً خواهان

بقیه در صفحه ۴

عذر بدتر از گناه

صفحه دوم

د یو شمېر کورنیو کړیو له خوا په شمال کې څه روان کړای شوي

دویم مخ

جوزف بلاتز:

کرزي زمونږ د عملیاتو بندیدل ندي غوښتي

د امریکا غږ:
په افغانستان کې د ایساف ویاند جوزف بلاتز وایي دوی خپلو عملیاتو ته دوام ورکوي او دا راپورونه سم ندي چې وایي جمهور رییس کرزي له هغوی نه غوښتي چې خپل عملیات بند کړي.
جمهور رئیس حامد کرزی وړمه ورځ کونړ ته ولاړ او هلته یې هغه ماشومان ولیدل چې د ناټو د هوايي بریدونو په نتیجه کې زخمیان شوي دي.
رپوټ وایي جمهور رئیس کرزي د افغانستان په کلیو او بانډو کې د ناټو او امریکا د بریدونو د بندیدو غوښتنه وکړه.
په افغانستان کې د ناټو قواوې وایي افغانانو ته ددې هیواد د امنیت د مسولیت سپارنه یوازې تشې خبرې نه دي او ددې کار لپاره باید افغان

پاتې ٤ مخ

د نوي کابل د پروژې د پلان لومړی برخه بشپړه شوې

کابل، رسنۍ:
د کابل د نوي ښار د پروژې بورډ ټولو کورنیو او بهرنیو شرکتونو ته اعلان وکړ، چې د ده سبز په سیمه کې د نوي کابل د پروژې د لومړي فیز پلان بشپړ شوی او دوی کولای شي چې د پروژې له مقرراتو سره سم، پانگونې وکړي او کارونه په کې پیل کړي.
د ده سبز په سیمه کې د نوي کابل د پراختیا د بورډ مسئولینو د دوشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل چې د نوي کابل د پروژې په لومړي پنځه کلن فیز کې د اتیازرو کورونو جوړول په پام کې نیول شوي دي.
د دې بورډ رییس اسحاق نادري د نوي کابل د جوړېدو ښیگڼې داسې په گوته کړې:
"ولې مو د نوي ښار د جوړولو سو فکر

پاتې ٤ مخ

د امریکا دائمي اډې او د افغان ولس چوپتیا

دریم مخ

نظرسنجی واشنگتن پست نشان داد؛

اکثر مردم امریکا مخالف جنگ افغانستان هستند

خبر گزاري فارس:
نتایج جدیدترین نظرسنجی دو رسانه امریکایی حاکی از آن است که نزدیک به دو سوم از مردم امریکا به شدت مخالف ادامه جنگ در افغانستان هستند.
به گزارش فارس، تازه‌ترین نظرسنجی شبکه "ای بی سی نیوز" و "واشنگتن‌پست" حاکی از آن است که نزدیک به دو سوم از مردم امریکا بر این باورند که جنگ افغانستان دیگر ارزش ادامه دادن ندارد.

آمار و ارقام به دست آمده نشان می‌دهد که تعداد امریکایی های مخالف جنگ افغانستان بسیار افزایش یافته است و اکثریت مردم این کشور

بقیه در صفحه ۴

یک کارشناس افغان در گفت‌وگو با فارس:

امریکا به فراتر از پایگاه‌های نظامی دائمی در افغانستان می‌اندیشد

خبرگزاری فارس:
وحید مژده با بررسی اظهارات رابرت گیتس در سفر اخیر وی به افغانستان، استراتژی امریکا را تسلط بر تمام امور افغانستان دانست که پایگاه نظامی دائمی بخشی از آن است.

به گزارش خبرنگار خبرگزاری فارس در کابل، حامد کرزی در سخنان اخیر خود در روز جهانی زن از تشکیل "لویه جرگه" به منظور اخذ تصمیم در مورد آینده افغانستان خبر داد و از کشورهای خارجی خواست تا صبر و حوصله به خرج دهند، زیرا دولت افغانستان صلاحیت گرفتن تصامیم بزرگی در مورد سرنوشت این کشور را ندارد.
رئیس جمهور افغانستان در این سخنان دلیل برگزاری جرگه را بیان نکرد اما این اظهارات یک روز پس از دیدار وی با وزیر دفاع امریکا ایراد شد.
گیتس در کنفرانس خبری خود و همچنین در سخنانی که در جمع نظامیان امریکایی مستقر

بقیه در صفحه ۴

د سرپرستو وزیرانو ټولې کړنې له یوې میاشتې وروسته نا قانونه دي

لوی افغانستان:
ولسمشر دې د هغو ادارو لپاره نوي وزیران او رییسان معرفي کړي، چې دسرپرستانو لخوا اداره کیږي.
د ولسي جرگې یو شمېرغړو له ولسمشر کرزي څخه وغوښتل، چې د هغو وزارتونو او ادارو لپاره دې نوي کسان ور معرفي کړي، چې د سرپرستانو لخوا یې چارې پرمخ بیول کیږي.
د سرپرستی د قانون له مخې، له یوې میاشتې ډېر هیڅ وزیر او رییس د سرپرست په توگه نشي پاتې کېدای، خو د سترې محکمې د ۹ غړو په گډون ۶ تنه وزیران او ۴ رییسان، له نږدې یو نیم کال راهیسې د سرپرستانو په توگه دندې ترسره کوي.
په ولسي جرگه کې د بدخشان استازې فوزیه کوفي د کب پر ۲۳مه، د ولسي جرگې په عمومي غونډه کې وویل ، چې تر هر څه ژر باید پاتې سرپرست وزیران او رییسان د باور رایې د تر لاسه کولو لپاره دې جرگې ته معرفي شي. نوموړې له ولسمشر څخه غوښتنه وکړه، چې د امکان په صورت کې دې په راتلونکو دوو اونیو کې دغه کسان معرفي کړي. کوفي

پاتې ٤ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان ثبات د سيمې د ثبات ضامن دی

افغانستان په يو داسې جغرافيايي موقعيت کې قرار لري چې څلورو خواو ته ګاونډيان لري.

هر لوری ګاونډيان لرل څه بده خبره نه ده بلکې ډېرې ګټې لري خو هله چې ګاونډيان پخپلو کې سره يو لاس، او د يو بل په درد او غم کې شريک وي، ددې برعکس که پخپلو کې لاس او ګريوان وي د يو بل د له منځه وړلو او يا هم د کمزورې کولو هلې ځلې کوي بيا نو له دېنه لوی سردردي او پريشاني نشته.

د سالم عقل غوښتنه خو داده چې ګاونډي هېوادونه پخپلو کې په ډېره مينه او اتفاق ژوند تېر کړي، د يو بل استحکام او استقلال ته په درنښت وګوري او په ټولو چارو کې يو ګډ دريځ خپل کړي.

په حقيقت کې ګاونډيان پخپلو کې د يو داسې نه جلا کېدونکي جسد مثال لري چې د قيامت تر ورځې د ګاونډيتوب له پيونده نشي جلا کېدلی، که د يو هېواد وګړي څومره وغواړي چې د ګاونډيتوب له دغه پيوند نه ځان وباسي، نشي ويستلی.

دهمدغه اصل په نظر کې نيولو سره افغانانو تل خپلو ګاونډيانو ته د دوستي لاسونه ورکړي دي او دېته يې لومړيتوب ورکړی چې له خپلو ګاونډيو هېوادو سره تل د سولې او ورورۍ په فضا کې ژوند تېر کړي او کله هم دهغوی د ګټو پرخلاف ګامونه اوچت نه کړي.

ګاونډي هېوادونه په خپلو کې د زنځير د کړيو مثال لري که هر يوه کړی له زنځيره وويستل شي نو بيا هغه خپل وجود له لاسه ورکوي، افغانستان په دې سيمه کې د ګاونډيو هېوادو د زنځير يوه محوري او اساسي کړی ده، افغانان نه غواړي چې د ګاونډيتوب دغه کړی ماته او په دې توګه د همسايه توب خوږ نعمت له خطر سره مخامخ کړي خو دا کار يوازې د افغانانو په پاک احساس نه شي ترسره کېدلی بلکې نورو ګاونډيانو ته هم د همداسې پاک احساس د پيدا کولو ضرورت دی.

دې لپاره چې د ګاونډيتوب زنځير سالم پاتې شي نو ټولو ګاونډيانو ته پکار ده چې په دې کې خپل مسؤوليت په صحيح توګه ترسره کړي.

د ګاونډيتوب دغه مضبوطې او نه شلېدونکې اړيکې يوازې او يوازې په هغه صورت کې قائمېدلی شي چې په افغانستان کې امن او ثبات حاکم شي ځکه چې افغانستان ددې سيمې په ګاونډيو هېوادو کې د زړه مثال لري که خدای مکړه دا له کاره ولوېږي نو د سيمې ټول هېوادونه به هم خپل بقا او ژوند له لاسه ورکوي.

افغانستان چې په دې سيمه کې لرغونی خپلواک او مستقل هېواد و ديرش کاله وړاندې د خپل نږدې ګاونډي شوروي اتحاد د پوځي يرغل له کبله د جنګ په بټۍ بدل شو او تر ننه د جنګ دا لمبې ځکه نه ختمېږي چې د روسي يرغلګر پوځ له وتلو وروسته ګاونډيانو هم په افغانستان کې د خپل هوس اسونه وځغلول او هر يو کوښښ وکړ چې افغانستان تر خپلې سيورې لاندې راولي او خپلې ګټې پکې خوندي کړي.

که څېر ته له افغانستانه د روسي يرغلګرو ځواکونو له وتلو وروسته ګاونډيو هېوادو د افغانستان د مظلوم او جنګ ځپلي ولس سره د زړه له تله بې غرضه مرسته کړې وای او دهغوی ترمنځ د جګړو اور بلولو ته لمنه نه وای وهلې نو افغانستان به د امريکا او ناټو غربيو هېوادو د پوځونو مرکز نه وو ګرځېدلی او په سيمه کې به دومره بوږنوونکې ناآرامي سر نه و اوچت کړې، خو ډېر افسوس چې ګاونډيانو هغه مهال له عقل او فکر نه کار وانخست او داسې سترې سهوې وکړې چې نن ټوله سيمه د ناامنۍ له ستر ګواښ سره مخامخ ده، ډېر د تأسف ځای خو لا دا چې اوس هم ګاونډيان له خپلې پخوانۍ تېروتنې څخه د عبرت درس نه اخلي او پرله پسې ډول داسې ناسنجشه ګامونه اوچتوي چې پخپل لاس خپلو هېوادو ته هم د بدامنۍ اور لګوي.

د افغانستان د مسلمان ولس غوښ اکثريت خپلو ګاونډيانو ته د زړه له تله پيغام ورکوي چې خدای لپاره نور پخواني تېروتنې مه تکراروئ، په دې سيمه کې افغانستان او افغانانو ته هم خپل هغه روا حق ورکړئ چې خپلو ځانو ته غواړئ، دهغوی ګټو ته هم دومره په درنښت وګورئ چې خپلو ګټو ته ګورئ، دا د فطرت قانون دی چې بل چاته کوهی ويستونکې پخپله په کوهي کې غورځېږي او له آزاره چا بازار نه دی ليدلی، داسې حالت مه جوړوئ چې افغانستان د پرديو پوځونو په اډه بدله شي، د جنګ جګړې او مرګونو ډګر وګرځي، د خدای په خاطر د آسيا زړه (افغانستان) د ثبات او استحکام لپاره د خپل ګاونډيتوب ستر مسؤوليت ادا کړئ تر څو د ګاونډيتوب زنځير هم ونه شلېږي او سيمه هم له نورو ګډوډيو او تباهيو نه په امن شي.

دا خبره د کاڼي کرښه وګڼئ چې که تاسې په افغانستان کې د امن د قيام لپاره خپل ستر مسؤوليت ادا نکړئ او په ګډه ددغه لګېدلي اور مخه ونه نيسئ نو ډېر ژر به تاسې هم ددغه اور خوراک شئ ښه به دا وي چې په افغانستان کې د ثبات له لارې ددغه خطرناک اور د مخنيوی لپاره په يو اتفاق له اخلاصه ډک ګامونه اوچت کړی شي، ځکه چې تر څو پورې په افغانستان کې ثبات نه وي راغلی ګاونډي هېوادونه هم د ثبات مخ نه شي ليدلی او يوه ورځ به خامخا د افغانستان په سرنوشت اخته کېږي.

د يو شمېر کورنيو کړيو له خوا په شمال کې څه روان کړای شوي

عزيز چوپان



زه نه غواړم هغه حقايق چې يو شمېر کسان او کړۍ د تعصب پر بنا اجراآت کوي، د تعصب پر بنا راوسپړم، خو ددغو حقايقو له رالوڅولو ځکه چاره نه لرو، چې هېواد يې د تباهۍ او بربادۍ پر لور روان کړی دی. غواړم دغو حقايقو ته په مشخصه توګه د جناب اولسمشر پام راواړوم چې د هېواد لومړی درجه صلاحيت لرونکی هم دی او لومړی درجه مسؤول هم؛ هم د خدای په وړاندې مسؤوليت لري هم د اولس په وړاندې؛ ځکه ستونزې پر دې نه حل کېږي چې سترګې پرې پټې کړای شي.

ښاغلی اولسمشر ! ستا مرستيالان او ستا وزيران هره اوونۍ له تاسره د کابينې په غونډو کې کښېني، ستا دا وظيفه ده چې له هر يوه نه وپوښتې چې څه دې وکړل او پر کومه بنا دې وکړل؟ که چېرې افغانستان پر يوه سمه لار روان نه کړای شي، نو يوه ډېره بده ګانده (مستقبل) به يې لار څارې. د سيمې هېوادونه او نړېوال استکبار لګيا دي زموږ په هېواد کې د ژبنيو، قومي، سمتي او تنظيمي تربګنيو زړې کرې، دا چې امريکايي مقامات راځي او ددې خبرې سروې کوي چې په افغانستان کې فدراليزم په کومو بنيادونو راوستل شي؟ معلومه ده چې امريکا زموږ هېواد کومې خواته بيول غواړي او د کوم هدف لپاره يې بېول غواړي؟

ايران لګيا دی په افغانستان کې قومي، ژبنيو او مذهبي اختلافاتو ته لمن وهي، د سيمې يو شمېر نور هېوادونه هم همدا دښمنانه سياست پرمخ بيايي چې بې له شکه تر هغې چې دغه سياست په افغانستان کې په کاميابۍ سره پرمخ روان وي د يوه سوکاله، آباد افغانستان او په دې هېواد کې د ملي يووالي د تحقق تمه نه شي کېدای. متأسفانه په افغانستان کې ډېری تنظيمونه او مذهبي سياسي ډلګۍ دي چې دغه بهرنۍ اجندا پرمخ بيول، په خپله ګټه بولي.

زه دلته دا خبره د يادونې وړ بولم چې کله طالبان د افغانستان پر نظامي، سياسي افق راڅرګند شول نو دوی (همدغو متعصبينو) اووه ځلې خوله پرېمنځله او بيايې د طالب نوم اخست؛ کندهار همدوی طالبانو ته وسپاره، غزني همدوی طالبانو ته وسپاره، له بګرامه جنګي الوتکې همدوی پورته کولې او په غزني کې يې دهغو تنظيمونو مورچلونه د طالبانو په پلوی بمباری کول چې د طالبانو مخالف وو. د ريشخور فرقه همدوی طالبانو ته دهغوی د استوګنې لپاره تخليه کړه، د قارواني موټر به ددوی، درې وخته ورروان وو، ميدانښار ته د طالبانو استقبال ته همدوی ورغلل، د مليادونو افغانيو بوری همدوی کندهار ته ورواستولې خو چې له دې ټولو خوشخدمتيو سره سره طالب پرې باور ونه کړ او د کابل ورسپارل يې ترې وغوښتل، نو بيايې دوه خپلې کړې او دوه پردۍ او مخ پر جبل السراج يې واچول، هلته چې سيمه يېزو ځواکونو يوه ورځ دوی رامخکې کول او بله ورځ طالبان او دا د يوې طرحې او پلان له مخې نو بيايې پر ځان د "مقاومت" (!) نوم کېښود او د همدې مقاومت له برکته (!) يې د وياړ ټول القاب خپل کړل، په داسې حال کې چې له روسي بلوسګرو سره يې هم د جوړجاړي ژمنليکونه لاسليکول او بيايې ورته دا پرتوګ کاوه چې پر روسانو مو ځانونه په رسميت وپېژندل، په داسې حال کې چې په پاتې افغانستان کې روسانو پر هر کور کلي سور اوربل کړی و. آيا دوی د جهاد له ليکو جلا کوم ځواک و؟ آيا دوی د افغان اولس له وجوده جلا وو؟

اوس هم په افغانستان کې يو شمېر تنظيمونه او سياسي ډلګۍ ددولت تر چتر لاندې هغه اهداف پالي چې هغه هېڅکله هم په مجموع کې د افغان اولس او افغانستان په خير نه دی، بلکې افغان اولس د ډول ډول تعصباتو پر پولو ودرول غواړي، دوی غواړي چې افغانستان بايد د همدوی په ولکه کې وي، او نور که وي هم نو په افغانستان کې دې "طفيلي " ژوند ولري او پر همدې دې قناعت وکړي؛ ځکه دوی "مقاومت " ! ! ! کړی دی. هو له روسانو سره مصالحه، له پرچميانو سره پر قومي او ژبنيو بنيادونو ائتلاف؛ خو د طالب په وړاندې له ډېرو جګجګيو وروسته "مقاومت " ! او بيا له امريکايي ډالرو نه د خپلو ځادرونو ډکول او د امريکايي پوځ په رکاب کې پر کابل مارش او پر دولتي پوستونو، شخصي او دولتي جايدادونو يرغل. دا څه د تور او تهمت خبره نه ده، بلکې هغه واقعيتونه دي چې زموږ ټول اولس د سر پر سترګو وليدل؛ خو يادول يې طبيعي ده چې ډېرو ته ترخه وي، هېڅوک هم دا نه خوښوي چې عيب يې مخې ته وروباسي.

دا اوس چې کومې مقررۍ کېږي، په ځانګړي توګه د هېواد په شمال ولايتو کې دا د ډېر تأمل وړ دي او زه نه پوهېږم چې په ځانګړي توګه ښاغلی اولسمشر ولې دغو جرياناتو ته په غړيدليو سترګو نه ګوري او پوښتنه يې نه کوي؟ متأسفانه اولسمشر هغه چاته جزا ورکول غواړي، د چا په رايه چې دا دوه ځله د اولسمشرۍ مقام ته انتخاب شو.

نو اوس هغه مهال رارسېدلی چې که اولسمشر ددغو خلکو په باب د مسؤوليت احساس نه کوي، دا خلک به پخپله د ځان په باب د مسؤوليت احساس وکړي، بيا به نو اولسمشر ددې ګيلې او شکايت حق ونه لري چې دا دی دې خلکو د دولت د حکم له منلو نه سرغړونه وکړه، بيا به دا خلک د شاعر ددې خبرې په مصداق عمل وکړي چې:

باده پيش آر هر چه بادا باد !

زما عرض خو د يوه مسلمان او افغان په توګه دادی چې دا سرکشه او بدمعاشه ډلګۍ، نوره د هېڅ ملا مسأله نه مني، هغوی وايي چې موږ بايد په هر حال په واک کې واوسو او که نه په دې ملک کې به اړی ګړی جوړوو، چې دا خبره هېڅکله هم د زغم وړ نه ده. افغانستان، په دې هېواد کې د ټولو مېشتو قومونو ګډ کور دی، ټول دلته، سياسي، مدني او نور حقوق لري؛ دا نه شي کېدای، چې د هېواد د ټولې کليدی څوکی دی د همدوی په لاس کې وي، د نورو قومونو او نورو د ګوندونو خلک دی يو يو، لکه وېښته چې له غوړو نه را ايستل کېږي، راوباسي او خپل کسان دې په کې نصبوي او اولسمشر دې هم پرته له کوم سنجشه او کومې محاسبې په پټو سترګو هغه لاسليکوي او په دې توګه دې په لوی لاس د لاس غوټه خولې ته بيايي. داسې نه ده چې دا سياسي زيرکتيا د همغې يوې ډلې په برخه ده او دا نور قومونه، ګوندونه او ډلې له ځنګله راوتي دي او پر دې نه پوهېږي چې په افغانستان کې چا څه روان کړی دي او د څه په خاطر يې روان کړي دي؟ اوس خلک دومره هوښيار شوي دي چې په اصطلاح د کاغذ د شاليک هم لوستلای شي.

هغه څه چې ما په دې ليکنه کې ليکلي، دا يوازې زما خبره او نظر نه دی، دا د افغان اولس د قاطع اکثريت غږ دی چې د ښاغلي اولسمشر تر غوږو يې رسول او اولسمشر په دې اړه د بې تفاوتۍ له خوبه راوېښول غواړي؛ دلته د هېچا پر خوله هم پلستر نه دی لګيدلی او نه دچا لاسونه تر شا تړل شوي، خو همدومره ده چې يو څوک به د هېواد او اولس د عمومي مصالحو په پام کې نيولو سره له زغم نه کار اخلي؛ خو زغم هم اخر يو حد لري، او نورې اوبه پر مورګو د اوښتو په حالت کې دي چې مسؤول به يې ښاغلی اولسمشر وي نه بل څوک.

حقيقت دادی چې زموږ ملي اردو ملي اردو نه ده، زموږ ملي پوليس ملي پوليس نه دی او زموږ ملي امنيت لا ملي امنيت دی، "ملي " ځانته يو تعريف لري او هغه دا چې بايد د ټول ملت د هيلو او آرزوګانو هنداره وي، همدغسې نور اورګانونه، دا خبره په اصطلاح تفتيش ته اړتيا لري او دا د ښاغلي اولسمشر جدي پاملرنې او جديت ته اړتيا لري، يوازې په خينو مواردو کې يوه انقلابي وينا بسنه نه کوي، بلکې عمل ته اړتيا ده.

عذر بدتر از گناه

اعزامی

چندی قبل در اثر عملیات نیروهای خارجی در ولسوالی های غازی آباد و دره پیچ ولایت کنر، در حدود ۷۵ نفر از هموطنان بیگناه ما شهید و تعداد دیگری زخمی گردیدند.

تلفات و خسارات ناشی از عملیات های هوایی نیروهای خارجی طی ده سال گذشته به همان پیمانه برای افغان ها زیانبار بوده که تلفات و خسارات دیگری را در اثر انفجار و انتحار مخالفین مسلح متحمل می شوند. هر دو طرف درگیر در جریان عملیات های هوایی و انفجاری، تعداد زیاد افراد بیگناه ملکی را شهید و مجروح نموده اند که فیصدی خیلی کم آن از جمله افراد محارب بوده اند. مولوی شهزاده شاهد نماینده مردم ولایت کنر در ولسی جرگه و رئیس هیئت ارزیابی بررسی حادثهٔ ولسوالی غازی آباد در بازگشت از ولایت کنر، تعداد کشته های حادثهٔ خونین غازی آباد را ۶۵ نفر قلمداد کرد. مولوی شاهد حادثه دلخراش غازی آباد را تکرار حادثات قبلی در ولسوالی های شیگل، نرنگ مانوگی و مروره دانست و گفت که نیروهای خارجی هر باری در پایان این حوادث به غلطی خود اعتراف نموده از آن صرف معذرت خواسته اند، ولی این بار فرماندهی نیروهای خارجی، قتل عام مردم بیگناه غازی آباد را، غلطی فرماندهی خویش ندانسته و ادعا کرده اند که والدین اطفال کنری قصداً اعضای وجود اطفال شان را قطع کرده و آنها را به قتل رسانده اند تا تعداد کشته ها را زیاد جلوه بدهند و قوماندان دیگر نیروهای خارجی ادعا کرده که والدین افغان بطور معمول جهت تأدیب و تنبیه اطفال خویش، دست و پای آنها را قطع می کنند و یا آنها را در آتش می سوزانند.

مقامات دولت افغانستان این ادعای فرماندهان نیروهای خارجی را که گویا اجساد اطفال افغان در ولایت کنر توسط والدین شان قطعه گردیده و یا سوختانده شده، به شدت رد کرده و همچو اتهامات شنیع و بی اساس را توهین و تحقیر به ملت افغان دانسته است. بقول سخنگوی ریاست جمهوری، پس از وقوع حادثه کنر و طفره روی های مضحک فرماندهان نیروهای خارجی، جنرال پتریوس فرمانده نیروهای ناتو به دفتر ریاست جمهوری فرا خوانده شد و جناب حامد کرزی در دیدار با او مراتب تأسف و نگرانی عمیق دولت افغانستان را از حادثهٔ المناک کنر و حوادث مماثل آن ابراز داشت و از وی درین مورد توضیح خواست، آژانس اسوشتیدپرس از قول سخنگوی رئیس جمهور می افزاید که حامد کرزی ازین سخنان فرماندهان نیروهای خارجی که اعضای بدن اطفال افغان توسط والدین شان قطعه قطعه و یا سوختانده شده اند، خیلی ناراحت گردیده و این اظهارات را شنیع و توهین آمیز توصیف کرده است.

یک جنرال قوای خارجی در دفاع از سخنان پتریوس گفته که زخم های کودکان افغان در حادثه کنر با نوع مهمات استعمال شده در عملیات هوایی مطابقت ندارد. لهذا امکان دارد که این سوختگی ها و زخم ها در وجود اطفال ناشی از شیوهٔ تنبیه و تأدیب توسط والدین آنها باشد. بقول جنرال گریگوری سمیت، متأسفانه نزد برخی افغان ها معمول چنانست که کودکان بی ادب و بدرفتار خویش را با چنین شیوه تأدیب میکنند !

مسؤولان کمیسیون حقوق بشر افغانستان نیز کشتار بی رحمانه مردم غازی آباد و دره پیچ ولایت کنر و اظهارات عاری از حقیقت فرماندهای نیروهای خارجی را محکوم نمود و این ادعای جنرالان خارجی را به شدت رد کردند که گویا افغان ها به بهانه تأدیب، فرزندان شان را میسوزانند و یا به قتل میرسانند. کشته شدن بیش از ۶۰ نفر افراد ملکی بیگناه در ولایت کنر، اولین حادثه از نوع خود نیست، بلکه قبل از این در طول ده سال و نیم گذشته نیز در هر هفته و یا ماهی نیست که در اثر عملیات هوایی نیروهای خارجی، افراد غیر نظامی بصورت دسته جمعی در ولایت مختلف افغانستان جان نباخته باشند، بنابر گزارش کمیسیون حقوق بشر در سال میلادی گذشته، بیش از ۲۷۰۰ نفر افراد غیر نظامی در اثر جنگ ها، جان باخته اند. برای پایان یافتن این تراژیدی، دولت افغانستان تأکید دارد، امسال نیروهای خارجی به تدریج مسؤولیت های امنیتی را به نیروهای افغان سپرده و از افغانستان خارج شوند تا تلاش های دولت برای تحقق پروسهٔ صلح هر چه زودتر در عمل پیاده گردد. هیئت بررسی حادثه کنر، ضمن ارائه گزارش های تحقیقی شان از جریان حادثه، از مقامات دولت افغانستان و جامعهٔ جهانی تقاضا نمودند که بنابه خواست مردم دردمند ولایت کنر، عاملان بمبارد هوایی ولایت کنر باید به میز محاکمه کشانیده شوند و اگر دولت به این خواست آنها وقعی نگذارد، ورثه شهدا و مردم ولایت کنر غرض محاکمهٔ قاتلین، به محکمه بین المللی عدالت در هاگ عارض خواهند شد.

نگرانی ها و غصهٔ دولت و مردم افغانستان

بقیه در صفحه ۴

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(اتمه برخه)

س۱۲۷: د فلکیاتو د علماوو نه چا لومړی په مطلق شکل د ځمکې ګردوالی او دوران کشف کړی؟

ځ: مسعودي ۳۴۵هـ ۹۵۶م او دا مسلمان دی او د غربیانو دا خبره غلطه ده چې (کوبرنیک) لومړی سړی دی چې دا نظر يې ورکړی بلکه د ده نه په پیړیو پیړیو مخکې مسلمانو علماوو لکه مسعودي، ادریسي او ابن هیثم دا نظرونه ورکړي دي.

س۱۲۸: د تفسیر د علماوو نه چا لومړی د ځمکې د ګردوالي خبره کړي؟

ځ: عبد الله د عباس زوي د عبد المطلب لمسی د هاشم کړوسی د پیغمبر علیه السلام د تره زوي.

س۱۲۹: په مطلق ډول په انسانانو کې پرته له دې چې مسلمان وي یا کافر، د فلکیاتو ماهر وي یا نه، چا لومړی د ځمکې د ګردوالي خبره کړې ده؟

ځ: عبد الله ابن عباس، لومړی شخص و چې د ځمکې د ګردوالي خبره یې د شریعت د علماوو او د فلکیاتو ماهرینو نه مخکې یې د ځمکې د ګردوالي خبره کړې ده.

س۱۳۰: د مسلمانانو نه لومړی څوک چین ته داخل شوی دی؟

ځ: یو سړی چې د حمزه په زوي یادیدو.

س۱۳۱: لومړۍ مدرسه چې په هند کې د انګریزي ښکیلاګګر د مقاومت په موخه جوړه شوه کومه وه؟

ځ: دارالعلوم، دا مدرسه د ډیلۍ شمال ته ۹۰ میله لرې د دیوبند په منطقه کې د ۱۲۷۳هـ ۱۸۶۷م د محرم په میاشت کې جوړه شوه او درس یې په یو واړه مسجد کې چې په (تشتي) یادیده شروع کړ.

س۱۳۲: څوک د دارالعلوم د مدرسي لومړی زده کونکی و؟

ځ: محمد حسن، چې وروسته د انګریزانو په ضد د جهاد مشر جوړ شو، او د شیخ الهند لقب ورته ورکړ شو.

س۱۳۳: څوک د دارالعلوم د مدرسي لومړی استاذ و؟

ځ: ملا قاري محمود، د دې مدرسي لومړی استاذ و چې د محمد حسن په شان زده کونکې یې تربیه کړي دي.

س۱۳۴: د دارالعلوم مدرسي چې وروسته د زیات شهرت له امله د (آسیا په ازهر) یادیده لومړی مدیر څوک و؟

ځ: مولانا رشید أحمد ګنګوهي.

س۱۳۵: دوه سوالونه چې ځواب یې په یوه حدیث کې راغلی دی.

۱- د قیامت لومړۍ علامه څه شی ده؟

۲- د جنتیانو لومړی خوراک څه شی دی؟

ځ: د بخاري حدیث دی، حمید د انس نه روایت کړی. وایي: عبد الله د سلام زوي په خپله ځمکه کې کار کاوه چې د پیغمبر علیه السلام د راتګ نه خبر شو، پیغمبر علیه السلام ته راغی، ورته یې وویل: زه له تاسو نه د یو څو شیانو پوښتنه کوم چې ځواب یې د نبي نه په غیر د بل چا سره نه وي: د قیامت لومړۍ علامه څه شی ده؟ او هغه سبب چې ماشوم پلار یا مور ته ورته والی پیدا کوي؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: همدا اوس جبریل خبر کړم، عبد الله تعجب وکړ او ویې ویل: جبریل ! پیغمبر و فرمایل: هو. عبد الله و ویل: دا په ملایکو کې د یهودو دښمن دی. انس و ویل: بیا پیغمبر علیه السلام دا آیت ولوست: [من کان عدوا لجبریل فانه نزله علی قلبک باذن الله] بیا یې و ویل: د قیامت لومړۍ علامه اور دی چې په خلکو به د ختیځ او لویدیځ له طرفه راوځي، او د جنتیانو لومړی خوراک د ماهي د اینې کوچ دي، او که د ښځې اوبه د سړي نه مخکې شي ماشوم مور ته ورته کیږي، عبد الله و ویل: شاهدي ورکوم چې د الله نه پرته معبود نه شته. یهود دروغجن قوم دی. که زما د اسلام نه خبر شول او ته تري زما په هکله پوښتنه وکړې تهمتونه به راپسې جوړ کړي دروغ به ووايي، بیا یهود راغلل، پیغمبر علیه السلام ورته و ویل: عبد الله بن سلام څنګه سړی دی؟ هغو و ویل: په مونږ کې ښه او د ښه سړي زوی، زمونږ بادار او د بادار زوي دی. پیغمبر علیه السلام و ویل: څه فکر کوی که عبد الله ابن سلام مسلمان شي؟ هغوي و ویل: الله دې ددې کار نه وساتي، عبد الله را ووت او ویې ویل: شاهدي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نه شته او محمد صلی الله علیه و سلم د الله استازی دی. یهودو وویل: دا په مونږ کې بد او د بد سړي زوي دی، عبدالله وویل: یا رسول الله دا هغه څه وو چې زه تري ویریدم.

س۱۳۶: په قاهره کې د عباسیانو لومړی خلیفه څوک و؟

ځ: أحمد مستنصر.

س۱۳۷: د عباسیانو د دولت لومړی وزیر څوک و؟

ځ: ابو سلمهٔ حفص د سلیمان خلال زوي.

س۱۳۸: د عثماني دولت لومړی مؤسس څوک و؟

سلیمان قانوني.

س۱۳۹: چا په اندلس کې د لومړي ځل لپاره أجرتی عسکر راټول کړل؟

ځ: حکم د هشام زوی د عبد الرحمن داخل لمسی.

س۱۴۰: په قیروان کې د عباسیانو لومړی امیر څوک و؟

ځ: عبد الرحمن د حبیب فهري زوي.

س۱۴۱: په اسلام کې لومړی څوک د مصر والي شو؟

ځ: عمرو د عاص زوي وروسته له هغې چې مصر یې فتحه کړ دا د عمر ابن خطاب په خلافت کې او د حضرت عثمان هغه له دې دندې نه ګوښه او په ۲۱هـ کال کې یې ترته مقرر کړ.

(نور بیا)

د امریکا دائمي اډې او د افغان ولس چوپتیا

عبدالله "کامه وال"

د څه مودې راپدېخوا دا خبره د هرې سیاسي او غیر سیاسي ناستو، ولاړو او بحثونو اساسي او محوري ټکي ګرځیدلې دی چې امریکا په دې هېواد کې د دائمي اډو د جوړولو پلان لري او غواړي چې د تل لپاره په افغانستان کې نظامي او سیاسي حضور ولري.

هغه مهال چې امریکا او نړېوالو اشرګړو د افغانستان په خاوره د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې ترنامه لاندې یرغل وکړ همغه مهال یو شمېر سیاسي شنونکو دا وړاندوینه کوله چې د امریکا نظامي یرغل به بالاخره په افغانستان کې د دائمي اډو په غوښتنه بدلېږي. خو دا خبره هغه مهال په حقیقت بدله شوه چې ولسمشر کرزي له یو بهرني سفر وروسته په زغرده وویل چې داسې یو څه خبره شته خو په اړه به یې لویه جرګه پرېکړه کوي چې آیا دا اډې د افغانستان په ګټه او که په تاوان دي، وروستی پرېکړه به د افغانستان ولس کوي.

خبره داده چې نظامي مرکزونه او اډې خو اوس هم د هېواد په هر کنج او کنار کې موجودې دي او ددغو نظامي مرکزونو له لارې امریکایان پر خپلو مخالفینو بریدونه هم کوي او ددوی په وینا له همدې مرکزونو د بیارغونې (PRT) ګروپونه هم کار اخلي. د امریکا دهمدې سیمه بیزه نظامي مرکزونو څخه پر افغان مسلمان او مجاهد ولس هره ورځ د افغانستان په هره سیمه کې مرګوني او وحشیانه بمباري کیږي او ددې بمباریو په نتیجه کې زمونږ مظلوم هیوادوال په ډیره بې رحمۍ سره په شهادت رسوي او لسګونه کورنۍ د غم په تغر کیني. امریکا په دې پوهېږي چې افغان ولس نور ددوی په شومو اهدافو پوهېدلې دی او ددوی د ناروا او وحشیانه بمبارۍ او وژنو تر پوزې راغلی او

لیرې نه ده چې ددوی په وړاندې د مقاومت جبهه پراخه او ولس راپاڅېږي او ددوی دا سیمه بیز نظامي مرکزونه له خپلو سیمو پر وتو مجبور کړي.

امریکا په افغانستان کې ستراتیژیک پلان لري او غواړي دغه پلان ته د عمل جامه واغوندي خو دا جامه په دا ډول کړنو او سیاسي تګلارو نه ترسره کېږي، دا ډول نظامي او سیاسي تګلاره د امریکا لپاره په اقتصادي لحاظ د یو ملا ماتوونکي، راتلونکي وړاندوینه کوي. دوی مجبور دي چې دغه لسګونه نظامي مرکزونه په څو مهمو او لویو دائمي اډو تبدیل کړي، او د همدې موخې د رسیدو لپاره د افغان حکومت سره خبرې اترې پیل کړې دي چې د ولسمشر له لوري يې خبر ورکړ شو. امریکا دا ډول اډې د نړۍ په نورو زیاتو کم ۱۵۰ هېوادونو کې هم لري چې ددوی په اند د مخدره توکو د قاچاق او د ترهګرۍ سره د مبارزې تر نامه لاندې جوړې شوي دي.

خو ددې ټولو هېوادو له جملې افغانستان او عراق هغه هېوادونه دي چې تر ټولو زیات شمېر (۳۶۹۰۰۰) امریکایي پوځونه پکې په نظامي چارو بوخت دي، او تر ټولو زیات لګښت هم په همدې دوه هېوادو کې پر سرتېرو کوي چې په تېرو لسو کلونو کې یې د امریکا اقتصاد هم دیوالیه کړې، خو دا زیان تر هغو ګټو ډېر کم دی چې امریکا یې په دې سیمه کې لري.

امریکا د ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې تر شعار لاندې غواړي په هغو هېوادو کې چې ددوی د نړېوالې اشغالګرۍ په مخ کې خنډ راولاړوي جګړه وکړي او له دې لارې په هغو هېوادونو کې خپل مخالفین وځپي، او د امریکا د دائمي اډو لپاره لاره هواره کړي چې د همدغو دائمي اډو له لارې د امریکا غیر مشروع ګټې خوندي کړي او له بله پلوه په سیمه کې د امریکا برلاسي هم حاکمه کړي.

دی او دېته ورته ګټو لپاره غواړي په افغانستان کې هم تلپاتې اډې ولري چې له دې ځایه هم په سیمه کې خپل رقیبان وځپي او له منځه يې یوسي. امریکا په سیمه کې د چین په اقتصادي پرمختګ او د روس او ایران د سیاسي حضور نه په اندېښنه کې دی او غواړي دا هېوادونه له همدې ځایه په اسانه او

پاتې ۴ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: د حزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه
ایمیل: shahadatnews_kabul@yahoo.com

بقیهء عذر بدتر از گناه...

در قبال رویداد خونین کنر در حالی ابراز می گردد که در بحبوحهٔ آماده گی های نیروهای خارجی برای تفویض مسؤولیت های امنیتی به نیروهای افغانستان و خروج تدریجی آنها از افغانستان، شایعهٔ دیگری از زبان مقامات دولت افغانستان شنیده میشود که گویا مقامات ایالات متحده امریکا از دولتمردان افغان خواسته اند، تا اجازه بدهند که پایگاه های دایمی نظامی امریکا در افغانستان تأسیس گردد، رئیس جمهور افغانستان اجازه چنین کاری را بالاتر از صلاحیت حکومت دانست و آنرا به مردم حواله کرد تا از طریق رفرندم، لویه جرگه و یا پارلمان در بارهٔ آن تصمیم بگیرند، ولی ذواتی قدرتمندی در رده های بالای حکومت وجود دارند که قبل از اظهار نظر مردم درین باره، موجودیت پایگاه های دایمی نظامی امریکا را یک ضرورت مطابق به مصالح مردم افغانستان پنداشته و به تأسیس آنها تأکید دارند.

د امریکا دائمي اډې...

ارزانه توګه وګواښي او له بله پلوه په افغانستان او سیمه کې د اسلام او مسلمانانو کلتوري او فرهنګي ویاړونه او افتخارات پر پښو لاندې کړي او ددې پر ځای د ډیموکراسی تر نامه لاندې غربي کلتور حاکم او د اصیل افغاني فرهنګ جنازه د تل لپاره وباسي. امریکا ددې هدف لپاره د ډېره پخوا لګیا ده هڅې کوي او ددې هڅو د پلي کولو لپاره یې له هېڅ راز دسیسو او تکتیکونو ډډه نه ده کړې. د امریکا موخه څرګنده ده او هغه د بې دینی ترویج د مسلمانان ترمنځ نفاق، شخړې او خپلمنځي جګړې دي. دا هغه څه دي چې د امریکا شومو اهدافو ته په یادو هېوادونو کې تحقق ورکوي، لکه چې یادونه وشوه امریکا په سیمه کې اوږدمهاله ستراتیژي لري او ددې د پلي کولو لپاره باید دلته سیاسي او نظامي مرکزونه ولري نو د همدې لپاره له افغانستانه د دائمي اډو غوښتنه کوي.
زما اند دا غوښتنه ددوی د راتګ تر ټولو لوی مقصد دی او د افغانستان غونډې یو کمزورې هېواد چې په مصلحتونو ولاړ نظام لري څنګه د امریکا ددا ډول غوښتنو په وړاندې د نه ځواب ووایي. او یا ددې اډو پر ښېګڼو او بدګڼو فکر وکړي. او پر داسې حساسو او ملي مسایلو پرېکړه وکړي چې د اډو شتون به زمونږ پر ګټه وي او که پر خپلو متو او کمو تومو امکاناتو باور به زمونږ د ښه راتلونکې زامن وي. آیا د امریکا د دائمي اډو په جوړېدو سره به په افغانستان کې د امن فضا رامنځته شي د ګاونډي هېوادونو لاسوهنه به بنده شي او که نوره به هم د ګاونډیانو او سیمې هېوادونو سره په جوال کې ولوېږو؟ آیا د اډو په جوړېدا به د یو باثباته حکومت خاوندان شو او که نور به د بې ثباتی ښکار شو؟ او یا هغه هېوادونه چې امریکا په کې نظامي اډې لري دهغې هېوادو ملي او دیني مقدسات خوندي دي او که د زوال سره لاس او ګریوان دي؟ آیا هلته د انسانانو ژوند، مال او ناموس خوندي دی او که د ګواښ سره مخ دی؟
دا او دېته ورته ډېرې پوښتنې دي چې زمونږ حکومت یې باید ولس ته ځواب ووایي او که نه نو تاریخ د هېچا لحاظ نه کوي.

اوباما له ګېټس او پېټریاس ...

ولسي وګړو یې خواشیني وښوده.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نیویارک ټایمز:
د امریکا چاپ نیویارک ټایمز ورځپاڼې د افغان ولسمشر حامد کرزي پر وروستی احساساتي وینا تبصره کړې، چې د کونړ په مرکز اسعد اباد کې یې وکړه. نوموړي په وروستیو پوځي عملیاتو کې د وژل شوېو کسانو کورنیو او خپلوانو ته د خواخوږۍ په څرګندولو سره، نړیوالو ځواکونو ته په خطاب وویل:
"په ډېر درنښت او ډېر عزت او په تواضع، نه په غرور او تکبر، له امریکا او ناټو څخه دا غوښتنه کوو، زموږ په خاوره کې دې دا عملیات بند کړي. دا جنګ زموږ په خاوره کې نه دی، که دا جنګ د ترور پر خلاف دی، دا جنګ زموږ په خاوره کې نه دی"

نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، د قربانیانو په دې یادغونډه کې چې د کونړ سیمه ییز چارواکي او په افغانستان کې دویمه درجه امریکایي جنرال ډیویډ روډریګ هم حاضر و، ولسمشر کرزي وویل، زموږ غوښتنه دا ده چې دا جګړه باید ودرول شي او دا د ټول افغانستان ږغ دی.
د ورځپاڼې په باور، دا نه ده څرګنده چې دغه بې باکانه وینا قصدي وه، که هسې د ژورو احساساتو له مخې. نیویارک ټایمز دا وینا د افغان ولسمشر او د امریکا د پوځي قوماندې ترمنځ د خرابو اړیکو یوه نښه بولي.
یوه امریکایي مقام د موضوع د حساسیت له خپله نیویارک ټایمز ته د نوم د نه خپرولو په شرط ویلي، د ولسمشر کرزي دغو څرګندونو ځینې امریکایي چارواکي خپه کړي دي. ناټو هم تر اوسه کوم مستقیم ځواب نه دی ویلی.
تر دې وینا څو ساعته وروسته د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر هڅه وکړه، د ولسمشر کرزي وینا نرمه تلقي کړي، نوموړي وویل د ښاغلي کرزي وینا په کونړ کې د وروستیو ملکي تلفاتو له کبله وه، چې په یوه برید کې ناټو نهه ماشومان ووژل، افغان چارواکي وایي په بله پېښه کې ۶۵ ملکیان وژل شوي دي، که څه هم د ناټو چارواکي وایي د دوی څېړنې روانې دي، لا هم ټینګار کوي، چې دا قربانیان وسلوال وو.
وحید عمر وویل، د ولسمشر هدف دا و، هغه پوځي عملیات چې ملکیان په کې وژل کېږي، باید ودرول شي.

ابزرور:
د بریتانیا چاپ ابزرور ورځپاڼې په خپله تازه ګڼه کې په هلمند کې د بریتانوي ځواکونو له لوري د ماینونو او ناچاوده مهماتو د پاکولو مسئلې ته کتنه کړې، د مقالې په یوه برخه کې یې راغلي: بریتانوي ځواکونو د ۸۰ بم شنډوونکو په مرسته د هلمند د ګرېشک ولسوالی، چهارکوچه سیمه له ناچاوده مهماتو پاکه کړه، دا سیمه تېر کال د سختو جګړو صحنه وه. ابزرور لیکي، ناچاوده مهمات د طالبانو له لوري خپرېږي او په دې توګه غواړي د بریتانوي ځواکونو د قطعو مخه ونیسي، چې دوی ونه کړای سیمې له طالبانو ونیسي.
د بریتانیا د دفاع وزارت د ناچاوده مهماتو د پاکولو دغه عملیات ډېر مهم بللي دي.
ورځپاڼه لیکي، د کلي تر پاکېدو وروسته څلوېښتې کورنۍ ورته راستنې شوې، دغه کلی تر یوه حده وران شوی و.
یوه پوځي قوماندان ډګرمن اندریو هاریسون ورځپاڼې ته وویل، چهارکوچه د ناچاوده مهماتو د موجودیت له کبله، د اړواوو په یوه کنډواله ښار بدل شوی و، اوس ماشومان په کلي کې په لوبو اخته دي او کورنۍ ورته د راستنېدو په حال کې دي.

خو ورمه ورځ ولسمشر کرزي په ختیځ کونړ ولایت کې د وژل شوو ولسي وګړو له کورنیو سره د خواخوږۍ د اعلانوو پرمهال خلکو ته په وینا کې پر امریکا او ناټو غږ وکړ چې په افغانستان خپل عملیات ودروي.
موږ له ناټو او امریکا سره هله دوستي غواړو، چې زموږ د خلکو او خاورې عزت په کې وي، که د دې ماشومې په څېر په اروپا کې داسې پېښه وشي، نو هلته به انقلابونه جوړېږي، خو بیا هم موږ غلي یو.
نوموړي وویل که چېرې امریکا او ناټو له ترهګرۍ سره له زړه مبارزه کوي، نو ترهګر د افغانستان په کلیوالو سیمو کې نه شته، او په وینا یې له پولې بهر دي، چې په دې امریکا ښه پوهېږي.
امریکایي چارواکي وایي د ولسمشر اوباما او پېټریاس ترمنځ به دا خبرې د ترل شوو دروازو ترشا ترسره شي.
په جګړه ځپلي افغانستان کې د ولسي وګړو وژل کېدل - په تېره بیا د ماشومانو - پر یوې حساسې موضوع اوښتي ده.
خو امریکایي او بهرنیو ځواکونو څو څو ځله ویلي چې په خپلو عملیاتو کې به د ولسي وګړو ژوند ته پام کوي.
جنرال ډیویډ پېټریاس له بي بي سي سره په ځانګړې مرکه کې ویلي خپلو قومندانانو ته یې له سره تر ممکنه بریده د ملکي تلفاتو د مخنیوي لارښوونه کړې ده.

رئیس جمهور کرزی خواهان...

توقف عملیات ناتو و امریکا در افغانستان شد.
از رییس جمهور کرزی هنگام ابراز همدردی با خانواده های نه کودک که در اوایل ماه جاری در عملیات هوایی ناتو در کنر کشته شدند نقل قول شده است که گفته است: "من از ناتو و امریکا با تکبر نه بلکه بااحترام وتواضع تقاضا کردم که عملیات خود را درخاک ما متوقف سازند."
اما سخنگوی وی گفت، تمرکز سخنرانی رییس جمهور بر عملیات بود که در ولایت کنر اجرا شده است. بر اساس گزارش ها رییس جمهور این مطلب را بعد از دیدن طفل یک سالهء ابراز داشت که یک پایش را در عملیات هوایی از دست داده بود.
تلفات غیرنظامیان عمده ترین مساله مورد نزاع میان حکومت افغانستان و قوای بین المللی در این کشور بوده است.
روزنامه نیویارک تایمز گزارش می دهد که مقامات اردوی امریکا از این اظهارات رییس جمهور کرزی خشم‌گین شده بودند.
سخنگوی ریاست جمهوری گفت که با وجود اختلاف نظرها در این اظهارات کرزی کدام مساله شخصی نهفته نیست.
وحید عمر افزود که رییس جمهور کرزی با جنرال پیترویس و سایر قومندانان آیساف بطور منظم ملاقات می کند.

کرزي زمونږ د عملیاتو ...

امنیتي ځواکونه پوره پوره وړتیا او تیاری ولري.
خو له دې سره سره دوی وایي د انتقال پروسه به د افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په معنی هم نه وي.
ناټو دا مني چې راتلونکی کال به په افغانستان کې د دوی لپاره خونړی کال وي او وایي ددې لپاره لاملونه شته دي.

په افغانستان کی د ایساف د ځواکونو ویاند چی په دی ورستیو کی د ناټو هیوادونو د دفاع د وزیرانو له غونډې نه چې په برسلز کی جوړه شوی وه بیرته افغانستان ته راغلی دی وایي په دی غونډې کې ورته د افغان دفاع وزیر له خوا د امنیتی مسولیت د اخیستنی په باب ښه زیری ورکړل شوی دی.
جوزف بلاتز وایي سره له دی چی د انتقال لړی لپاره لومړنی شرط د افغان ځواکونو په خپلو پښو دریدل او د هیواد نه خپلواکه ساتنه ده خو په دی غونډې کې د ناټو سر مشریزه په دې ټکي موافقې ته سره رسیدلي دي چې اوس افغان امنیتي ځواکونه ددی وړتیا لری چی د خپل هیواد نه خپلواکه ساتنه وکړی او دا پروسه به ډیر ژر د راتلونکی لمریز کال په لومړی ورځ پیلیږي.
ځینې راپورونه ښیي چې همدا اوس د افغانستان سرحدونو نه پورې غاړې ته مخالف ځواکونه پوره تیاری لري او یوازې دې ته ګوري چې کله به بهرنیان دا سیمې پریږدي چې هغوی ورننوځي.

امریکا به فراتر از پایگاه های ...

در امریکا به تمایل امریکا برای حفظ سربازان خود پس از ۲۰۱۴ در افغانستان تأکید کرد.
این احتمال وجود دارد که فراخوانی لویه جرگه به منظور نظرخواهی درباره پایگاه های نظامی امریکا در خاک افغانستان باشد.
"وحید مژده " کارشناس سیاسی افغان به اشاره به سفر اخیر گیتس به کابل معتقد است که در صحبت‌های کرزی و گیتس موضوعات تازه‌ای مطرح شد که در گذشته بیان نشده بود.
وی خاطر نشان کرد: کرزی پس از بازگشت از کنفرانس امنیتی مونیخ و ملاقات با مقامات امریکایی به طور صریح اعلام کرد که امریکایي‌ها خواستار داشتن پایگاه نظامی دائمی در افغانستان هستند، اما گیتس در این سفر به طور ضمنی گفته‌های کرزی را رد کرد.
مژده افزود: گیتس در کنفرانس خود گفت که امریکا خواهان داشتن پایگاه نظامی دائمی در افغانستان نیست، بلکه حضور نیروهای امریکایی در این کشور پس از ۲۰۱۴ به منظور همکاری و آموزش به نیروهای امنیتی افغان مي تواند ادامه یابد.
کارشناس افغان گفت: به نظر مي رسد که امریکایي‌ها خواستار چیزی فراتر از پایگاه نظامی در افغانستان هستند و تنها به داشتن پایگاه نظامی بسنده نخواهند کرد.
این کارشناس افغان اظهارات ضد و نقیض امریکایي‌ها را عامل ایجاد شک و تردید در کرزی دانست و گفت: شک و تردید ایجاد شده در کرزی باعث شده که وی اقدام به برگزاری لویه جرگه کند تا تصمیم گیرنده نهایی نمایندگان مردم باشند.
مژده خاطر نشان کرد: امریکایي‌ها با هوشیاری تمام اکنون ادعا مي کنند که در پی داشتن پایگاه دائمی نیستند و مي خواهند که این موضوع توسط خود افغان‌ها درخواست شود.
وی افزود: در این صورت امریکا شروطی را مطرح خواهد کرد و تلاش خواهد کرد تا ین شرایط را بر افغان‌ها بقبولاند.
کارشناس افغان خاطرنشان کرد: اگر مسئله پایگاه نظامی توسط امریکایي‌ها مطرح شود، در این صورت افغان‌ها شرایطی را مطرح خواهند کرد که قبول آنها برای امریکا گران تمام خواهد شد، به همین دلیل امریکا با زیرکی تلاش مي کند تا موضوع از جانب افغان ها مطرح شود.
به نظر این کارشناس افغان، پایگاه نظامي، شرایط و محدودیت‌هایی دارد و به نیروهای امریکایی اجازه دخالت در امور دولتي، بمباران و جنگ، مداخله در سیاست‌های خارجی و اجازه اقدامات برون مرزی را نمي‌دهد و این خلاف استراتژی حضور امریکا در افغانستان است.
وی گفت: همان طور که وزیر دفاع امریکا بیان داشت، این کشور مي‌خواهد همانند ۱۰ سال گذشته در کنار مردم افغانستان، ارتش و پلیس ملی باقی بماند تا در تمامی مسائل مربوط به افغانستان دخالت کند.
به باور مژده علت دیگر فراخوانی لویه جرگه، تعیین سرنوشت پارلمان است که به بحرانی برای دولت افغانستان تبدیل شده است.
مژده خاطر نشان کرد: به نظر مي رسد که بازشماری آراء انتخابات پارلمانی توسط دادگاه رسیدگی به تخلفات انتخاباتي، نتایج انتخابات را تغییر مي‌دهد.

د نوي کابل د پروژې د پلان ...

وکړ، دا سوچ د اوسني کابل ستونزو را پیدا کړې، په اوسني کابل کې بې کاري، د نفوس زیاتوالی، د اوبو کمښت او داسې نورې ستونزې له یوې ورځې نه بلې ته زیاتیږي.
نوی کابل به تر ډېره ځایه دغه ستونزې کمې کړي، د نوي کابل د ښار پروژه د هېواد له سترو پروژو څخه دی."
د نوي کابل د پروژې د ماستر پلان د جوړلو کارشاوخوا درې کاله د مخه د کورنیو او بهرنیو متخصصینو له خوا پیل شوی و.
پلان وایي، د نوي کابل ښار پروژه د ده سبز په سیمه کې د کابل او باګرام د هوایي ډګرونو ترمنځ په درې لکه او پنځوس زره جریبه ځمکه کې په پنځه لسو کلونو کې پلي کیږي، چې درې میلیونو خلکو ته په کې د اوسېدو اسانتیاوې په پام کې نیول شوي دي.
د نوي کابل د پراختیا د بورډ د معلومات له مخې، د یادې پروژې چارې پر دریو پنځه کلنو فیزونو ویشل شوي دي، چې دا دی د لومړي پنځه کلن فیز ټول قانوني اسناد او د بنیادي چارو پلانونه یې بشپړ او تیار دی، چې کورني او بهرني شرکتونه په کې د کورونو او ښارګوټو د ودانولو داوطلبي ته را مخکې شي.

اکثر مردم امریکا مخالف ...

مخالف ادامه این جنگ هستند.
واشنگتن پست در ادامه گزارش خود اینگونه نوشت که یافته‌هاي به دست آمده چالش رو به رشدي را براي "باراک اوباما " رئیس جمهوری امریکا که در حال تصمیم گیری در خصوص چگونه خارج کردن سریع نیروها از افغانستان تا آغاز تابستان سال جاری است، پدید مي‌آورد.
این نظرسنجی همچنین نشان مي‌دهد که تنها ۱۹ درصد از دموکرات‌هاي امریکایي و ۵۰ درصد از جمهوری‌خواهان بر این باورند که جنگ افغانستان ارزش ادامه دادن را دارد.
نتایج این نظرسنجی حاکی از آن است که تقریباً سه چهارم مردم امریکا بر این باورند که اوباما باید تا تابستان سال جاري تعداد قابل توجهي از نیروهاي نظامي امریکا در افغانستان را کاهش دهد.
نظرسنجی مشترک "ای بی سی نیوز " و "واشنگتن‌پست " پس از آن صورت گرفت که "دیوید پترائوس " فرمانده نیروهای امریکا در افغانستان آماده می‌شود تا روز سه شنبه در خصوص مسیر و جهت جنگ افغانستان در مقابل کنگره شهادت دهد و قرار است درباره جنگ افغانستان که در میان مردم امریکا نامحبوب است، مورد بازجویی قرار گیرد.
"جف مورل " سخنگوی پنتاگون روز گذشته اعلام کرد که قرار است پترایوس به کنگره بگوید که تمامی امور در افغانستان به خوبی در حال پیشرفت است.

د سرپرستو وزیرانو ټولي ...

زیاتوي: "اوس ولسي جرګه دې ته چمتو ده، چې پاتې وزیرانو او نورو ته د باور رایه ورکړي."
همداراز د پکتیا استازي ګل بادشا مجیدي وایي، چې سرپرستو وزیرانو او رییسانو د نورو ستونزو ترڅنګ د بودجې په لګښت کې هم ګڼې ستونزې پیدا کړې دي. هغه وایي، چې د سرپرستو وزیرانو ټولې کړنې له یوې میاشتې وروسته نا قانونه دي، نو ځکه دوی د بودجې د مصرف صلاحیت هم نلري. نوموړي زیاته کړه: "هغه وزیر یا رییس، چې د ولسي جرګې د باور رایه اخیستې احساس د مسوولیت کوي او په خپل وخت هر کار سرته رسوي، خو سرپرست بیا دا کار نه کوي."
د ولسي جرګې مشر عبدالرووف ابراهیمي ددې جرګې دارالانشا ریاست ته دنده وسپارله، چې د سرپرستو وزیرانو او رییسانو په اړه حکومت ته یو مکتوب واستوي.
ابراهیمي وویل، چې د بودجې تر موضوع وروسته ولسي جرګې دې ته چمتو ده، چې سرپرستو وزیرانو ته د باور رایه ورکړي.
د تېرې شنبې پر ورځ د راتلوونکي کال بودجه د مالیې د وزیر ډاکټر عمر زاخېلوال له لوري ولسي جرګې ته وړاندې شوه.
ابراهیمي زیاتوي: "په دوو اونیو کې باید سرپرست وزیران معرفي شي."